ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۳۱

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (شپږ شپیتمه برخه)

## محمد اسرائیل

د غوايي له پاڅون وروسته د خلق د ګوند د مرکزي کمېټي علی البدل غړی، د بدخشان د ولايتي ګوندي کمېټي منشي.

## محمد کبیر

د خلق د ګوند د مرکزي کمېټي علی البدل غړی د بلخ د ولايتي ګوندي کمېټي منشي او د بلخ والي. د څارندوی بولندوی. د ۱۹۸۴ز کال د جولای په میاشت کې د مالیې وزیر.

## محمد کبیر

د قره باغ بومي اوسېدونکی. تحصیلات ئې په مصر کې کړي دي. د اسلامی شریعت پوهاند. د کابل پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي رئیس. د کابل پوهنتونو د شرعیاتو د پوهنځي پوهاند. د ۱۹۶۰ز لسیزې په اوږدو کې د دیني تدریسي کتابونو مؤلف.

## جنرال محمد کبیر [1]

له کوهدامن څخه د ساختماني چارو د سوپروایزر مدد خان زوی په ۱۹۰۶ز کال کې زېږېدلی دئ. تر ۱۹۲۰ز کال پورې د حبیبیې لیسې ته تللی دئ. له ۱۹۲۰ تر ۱۹۳۲ز کال پورې ئې خپل د انجنیرۍ ډيپلوم له فرانسې څخه واخیست. د ماهیپر د هایدرولیک برېښنا د تولید د ستیشن د ودانولو دایرکتر. په ۱۹۴۰ز کال کې د قوای مرکز د ودانولو دایرکتر. په ۱۹۴۸ز کال کې د ملي دفاع د وزارت د ودانولو چارو مشر. په ۱۹۵۳ز کال کې د تولګټو/ فواید عامې د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۵۶ز کال کې د تولګټو د وزارت سرپرست وزیر. په ۱۹۵۹ز کال کې د تولګټو د وزارت وزیر. په ۱۹۶۳ز کال کې د روم سفیر. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د صدارت عظمی د اقتصادي مشورتي بورډ رئیس. د خلقیانو د واکمنی پر مهال زنداني سو. مورنی ژبه ئې دري ده. اوس په جرمني کې ژوند کوي. *

## محمد مرید

[1] -Muhammd Kabir Gen


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د معارف په وزارت کې محاسب. د کنترول او پرسونل مدیر او وروسته د معارف په وزارت کې اداري رئیس. د هلمند د پرمختیایي درې د تفتیش رئیس. د مخابراتو په وزارت کې وو. د کابینې سکرتر. تقاعد سو او په کابل کې وفات سو.

**ډگرجنرال محمد موسی** : وگورئ : نورستاني

## ډگرمن محمد نادر

د ۱۹۷۸ز کال د مي په میاشت کې د دفاع په وزارت کې د سازمان مشر. د آریانا افغان هوایي شرکت رئیس. په ۱۹۸۰ز کال کې ځای ئې سید بابا جان ونیوۀ.

## شهزادگی محمد نادر

د پخواني پادشاه محمد ظاهر شاه زوی په ۱۹۳۱ز کال کې زېږېدلی دئ.

## محمد نعیم (ضیائي)

د شهزادگي محمد عمر زوی په ۱۹۰۴ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۲۱ز کال کې د حبیبیې ښوونځي ته تللی او له فراغت وروسته فرانسي ته لاړ. د میشل په لیسې کې شامل سو او په ۱۹۲۳ز کال کې د پاریس په الکتریکل او میکانیکل انجنیرینگ کالج کې شامل سو. په ۱۹۲۹ز کال کې فارغ سو او له فراغت وروسته افغانستان ته راستون سو. د (شرکت تنویرات) [2] انجنیر. په ۱۹۳۶ز کال کې د ټولگټو په وزرات کې سر انجنیر او ډایرکټر جنرال. د فابریکاتو د ډایرکټر جنرال مرستیال. په ۱۹۴۰ز کال کې د صنایعو ډایرکټر جنرال. په ۱۹۴۷ز کال کې د صنایعو دریم مرستیال او رئیس. په ۱۹۵۰ز کال کې د کانونو د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۸۱ز کال راهیسي په فرانسي کې اوسېږي.

## سردار محـــمـــد نعـیـم

د سردار محمد عزیز زوی، او د ولسمشر محمد داؤود ورور په ۱۹۱۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې او استقلال لیسو کې ئې زده کړې کړې دي. په ۱۹۳۱ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت د سیاسي چارو عمومي مدیر. په ۱۹۳۲ز کال کې د روم مختار وزیر. له ۱۹۳۴تر ۱۹۳۷ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۳۷تر ۱۹۴۶ز کال پورې کې د معارف وزیر (په ښوونځیو کې ئې د پښتو ژبه پیل او وده ئې ورکړه). له ۱۹۴۰ تر ۱۹۴۶ز کال پورې مرستیال صدراعظم. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۴۷ز کال پورې په برتانیې کې مختار وزیر، له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۰ز کال پورې د امریکا د متحده ایالاتو سفیر. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د باندنیو چارو وزیر او د صدراعظم مرستیال. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۷۳ز کال پورې متقاعد. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د ولسمشر محمد داؤود خاص استازی او د باندی پالیسۍ سلاکار. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د میاشتې په ۲۷ نېټې د غوایي د پاڅون په لړ کې ووژل سو. د پخواني پادشاه اعلیحضرت محمد ظاهر شاه له مشرې خور (او د اعلیحضرت نادر شاه له لور) سره ئې وادۀ کړی دئ چې یو زوی او یوه لور لري. په فرانسوي او انگلیسي ئې په ډېر فصاحت خبرې کولې.

## محمد نو روز

[2] -Shirkat-i-Tanwirat


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۸۹۶ز کال کې په لوګر کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې ئې کړې دي. په ۱۹۱۸ز کال کې د شهزاده امان الله خان (چې وروسته پادشاه سو) سکرتر یا منشي. په ۱۹۲۴ز کال کې د جشن د مراسمو د تجلیل مشر منتظم او رئیس. په ۱۹۲۷ز کال کې د دارالامان د ښار جوړوني د پروژې عمومي رئیس. په ۱۹۲۸ز کال کې د نو روز د ورځپاڼې بنسټ ایښودونکی او محرر. لومړی د حبیب الله کلکاني پر ضد مقاومت سره یو ځای سو او بیا په ۱۹۲۹ز کال کې په پکتیا کې له جنرال نادر خان سره یو ځای سو. له ۱۹۲۹ تر ۱۹۳۹ز کال پورې د اعلیحضرت نادر خان او اعلیحضرت محمد ظاهر سرمنشي. له ۱۹۳۰ تر ۱۹۳۹ز کال پورې د افغان ادبي ټولنې مشر او وروسته ددې ټولنې افتخاري رئیس. په ۱۹۳۶ز کال کې د دربار وزیر سو. له ۱۹۳۹ تر ۱۹۴۲ز کال پورې د ایران سفیر. له ۱۹۴۳ تر ۱۹۴۶ز کال پورې د کورنیو چارو وزیر. په ۱۹۴۶ز کال کې د مالیې وزیر. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۴۹ز کال پورې د مسکو سفیر. په ۱۹۴۹ز کال کې د اروپا او د منځني ختیځ هېوادونو ته د اعلیحضرت محمد ظاهر د سفر مل. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د مالیې وزیر. په ۱۹۵۳ز کال کې د کورنیو چارو وزیر. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د سعودي عربستان سفیر. په ۱۹۵۵ز کال کې د لوګر له کلنګار څخه ملي ولسي جرګې ته وټاکل سو. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د ولسي جرګې د نهمې دورې رئیس. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د ولسي جرګې د لسمې دورې رئیس. وادهٔ ئې کړی دئ او ۱۷ تنه بچیان لري. د بچیانو په منځ کې ئې د یادونې وړ کسان : (یحیی په وسله وال ځواک کې دئ؛ انور د باندنیو چارو دوزارت پخوانی مأمور، رحیم لومړی افغان ملکي پیلوټ او د آریانا افغان هوایي شرکت مشر پیلوټ). د ۱۹۶۰ز لسیزې په لړ کې وفات سوی دئ.

## نظر محمد [3]

په ۱۹۴۸ز کال کې د پکتیا په زرمت کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۴ز کال کې په زرمت کې لومړني ښوونځي کې شامل سو. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۲ز کال پورې د ابن سینا لیسې ته لاړ. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د کابل پوهنتون د انجنیرۍ پوهنځي ته لاړ. په ۱۹۷۰ز کال کې د مکلفیت عسکري دوره. په ۱۹۷۱ز کال کې د (الکتریک کمپنۍ) د تخنیکي مدیریت د مقام غړی. په ۱۹۷۳ز کال کې د کجکي د اوبو د بند ساختماني انجنیر. په ۱۹۷۴ز کال کې د کابل د برېښنا د دریم فرعي سټیشن د مونتاژ مدیر. په ۱۹۷۷ز کال کې ئې د جرمني د فدرال جمهوریت د سکالر شیپ تر سیوري لاندې پرمختللې روزنه ولیدله. په ۱۹۷۸ز کال کې د الکتریک کمپنۍ عمومي رئیس. د ۱۹۷۸ز کال د سپتمبر په میاشت کې په بُن کې سفیر وګومارل سو. د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ د میاشتې له لومړۍ نېټې راهیسې د ټولګټو د وزارت وزیر. د مرکزي کمېټې او د انقلابي شورۍ غړی. په جرمني او انګلیسي په فصاحت خبرې کوي. وادهٔ ئې نهٔ دئ کړی.

## محمد عمر

د کام kAM (کارګري اطلاعاتي مؤسسې ــ ژ) رئیس. د ۱۹۸۰ز کال د جون په میاشت کې اعدام سو.

## استاد محمد عمر

---

3 - د انګلیسي متن په کتاب کې ئې په انګلیسي الفبا د نوم مخې ته په عربي الفباء ئې «محمد نظر» لیکلي دي. - ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د محمد ابراهیم زوی په ۱۹۰۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. دی د موسیقي له هغې متخصصي کورنی څخه دئ چې د کابل په سویل کې په قره باغ کې اوسېدله. سندرې ویل ئـې له استاد قاسم څخه زده کړي دي او رباب غږول ئـې له استاد غلام محمد څخه زده کړي دي. په ۱۹۵۹ز کال کې ورته د «استاد» لقب ورکړل سو. په ۱۹۸۰ز کال کې په کویټې کې د زړهٔ د حملې له کبله وفات سو.

## محمد عمر

په ۱۸۸۶ز کال کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې ئـې کړې دي. له ۱۹۰۴ تر ۱۹۱۵ز کال پورې له بخارا او هندوستان سره ئـې د صادراتو او وارداتو سوداګریز کار پیل کړ. له ۱۹۱۵ تر ۱۹۱۸ز کال پورې د سوداګرۍ د خونې رئیس. له ۱۹۱۸ تر ۱۹۲۹ز کال پورې په لندن کې د افغان سوداګرۍ استازی. په ۱۹۳۱ز کال کې د ملي بانک یو له بنسټ ایښودونکو څخه دئ. له ۱۹۳۱ تر ۱۹۳۳ز کال پورې په کراچۍ، پېښور او چمن کې د ملي بانک د څانګو بنسټ ایښودونکی او رئیس. له ۱۹۳۳ تر ۱۹۳۹ز کال کې په لندن کې د ملي بانک د څانګې بنسټ ایښودونکی او رئیس. په ۱۹۴۰ز کال کې افغانستان ته راستون سو او د قره قل سهامي شرکت او د مزار شریف د صادراتو او وارداتو د سهامي شرکت بنسټ ئـې کښېښود – دا سهامي شرکت یوازینی بنسټ وو چې په ۱۹۴۰ز کال کې ئـې له شوروي اتحاد سره سوداګري درلوده. له ۱۹۴۰ تر ۱۹۴۱ز کال پورې د افغانستان د شمال په ولایتونو کې د ملي بانک د څانګو مشر. په ۱۹۴۱ز کال کې ئـې د مالوچو د کمپنی بنسټ کښېښود. له ۱۹۴۱ تر ۱۹۵۰ز کال پورې په نیویورک کې د افغان – امریکن د سوداګریزې کمپنۍ بنسټ ایښودونکی او رئیس. لومړنی افغان افتخاري جنرال قنسل. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د ملي بانک مرستیال رئیس. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۶ز کال پورې د نساجي د کمپنۍ رئیس او د ملي بانک مرستیال رئیس. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د جرمني په هامبورګ او میونیخ کې د ملي بانک مشر. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د ملي بانک سرپرست رئیس. په ۱۹۶۸ز کال کې تقاعد سو. د محمد سرورعمر پلار (چې د سوداګرۍ وزیر وو). په ۱۹۶۹ز کال کې د ۸۳ کالو په عمر وفات سو.

**نور بیا**

## جنرال محمد عمر

په ۱۸۹۸ز کال کې زېږېدلی دئ. د ابو احمد (ابوي) د کورنۍ یوسفزی. زده کړې...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ